مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۹** (از ۱۲ الی ۱۹ جدی ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### افغانستان په ۲۰۱۵ کې؛ اقتصاد، اداري فساد او بهرنی سیاست

- اقتصادي وضعیت ........ ۴
- اداري فساد ........ ٦
- نشه‌يي توکي ........ ٦
- کډوال ........ ۷
- بهرنی سیاست ........ ۷

### افغانستان در سال ۲۰۱۵؛ صلح، امنیت و اختلافات داخلی

- وضعیت امنیتی کشور ........ ۱۰
- ظهور گروه داعش ........ ۱۰
- گسترش جنگ به شمال کشور ........ ۱۱
- سقوط کندز ........ ۱۲
- مذاکرات مری و سرنوشت پروسۀ صلح ........ ۱۳
- اختلافات داخلی حکومت ........ ۱۴

## مقدمه

۲۰۱۵ کال د افغانستان لپاره په ډېرو برخو کې له ستونزو ډک کال و. په دې کال کې د هېواد امنیت د افغان ځواکونو په غاړه و او د دولت له وسله‌والو مخالفینو سره د سولې خبرې اترې هم کومې پایلې ته ونه رسېدې. د طالبانو په لیکو کې ژور بدلونه راغلل او ترڅنګ یې داعش ډلې هم په افغانستان کې فعالیت پیل کړ. همدا لاملونه وو، چې د هېواد امنیتي وضعیت د تېرو ۱۴ کلونو په پرتله زیات خراب و. په لومړي ځل د هېواد یو ولایت د دوو اوونیو لپاره د طالبانو ولکې ته ورغی او د جګړې لمن د هېواد شمال ته هم پراخه شوه.

په دې کال کې ملي وحدت حکومت په خپلمنځي اختلافاتو کې ښکېل و، چې له کبله یې هېواد له ګڼو ننګونو سره مخ شو. د دغو اختلافاتو له کبله د حکومت مشران ونه توانېدل، چې خپلې ژمنې عملي کړي. که څه هم د دغو اختلافاتو اغېز د هېواد پر بهرني سیاست هم جوت و؛ مګر بیا هم په دې کال کې حکومت د بهرني سیاست په برخه کې ځینې لاسته راوړنې درلودې.

د خراب اقتصادي وضعیت او وزګارتیا له کبله، سلګونه زره افغانان له هېواده په تېښته شول او په نورو هېوادونو کې هم د افغان کډوالو وضعیت خراب و.

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، د ۲۰۱۵ کال په اوړدو کې په بېلابېلو برخو کې د هېواد د وضعیت په اړه، د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د بورډ شننې او څېړنې لولئ.

# افغانستان په ۲۰۱۵ کې؛ اقتصاد، اداري فساد او بهرنی سیاست




په ۲۰۱۵ کال کې افغانستان په بېلابېلو برخو کې له بد وضعیت سره مخ و. د امنیتي وضعیت د خرابوالي ترڅنګ د هېواد اقتصادي وضعیت هم د تېرو ۱۴ کلونو په پرتله خراب و. په دې کال کې افغانۍ خپل ارزښت په بې‌سابقه ډول له لاسه ورکړ. وزګارتیا او بې‌کاري پکې اوج ته ورسېده، پانګونه پکې کمه شوه او همدا لاملونه وو، چې یو زیات شمېر با تعلیمه ځوانان د هېواد پرېښودو ته اړ شول.

په دغه کال کې له ګاونډیو هېوادونو څخه یو شمېر افغان کډوال هم هېواد ته راستانه شول، چې دغه شمېره بیا په وروستیو شپږو کلونو کې تر ټولو زیاته وه. همدا راز حکومت د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره ځینې هلې ځلې وکړې، چې ډېرې دا هڅې له یو بل سره په ټکر کې وې.

په بل اړخ کې د افغانستان بهرنی سیاست په دغه کال کې د تېرو ۱۴ کلونو په پرتله ډېر متفاوت و. په یو شمېر برخو کې یې لاسته راوړنې درلودې، خو په ځینو برخو کې بیا له ننګونو او ناکامۍ سره مخ شو.

دا چې په ۲۰۱۵ کال کې په ټولیز ډول د هېواد اقتصادي وضعیت څه ډول و، له هېواده د افغانانو وتل او له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغان کډوالو بېرته راتګ څرنګه و، د اداري فساد پرضد حکومت څه وکړل او د بهرني سیاست په برخه کې هېواد په کوم لوري ولاړ؟ دلته پرې شننه کوو.

## اقتصادي وضعیت

د آسیا پرمختیایي بانک د شمېرو له مخې، په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د داخلي ناخالصو تولیداتو وده ۲.۵ سلنه وه، چې د تېر کال ۲۰۱۴ په پرتله ۱.۳ سلنه زیاتوالی ښیي[1]. که څه هم نړیوال بانک بیا دغه وده ۱.۹ سلنه ښیي[2]. صنعتي پیداوار هم د تېر کال په پرتله زیات شول. خو د دې ترڅنګ د سیاسي او امنیتي بې‌ثباتیو له کبله، د خلکو او پانګوالو باور کم شو او ملي وحدت حکومت هم ژمنه شوي اصلاحات رانه وستل.

## د افغانۍ ارزښت


په ۲۰۱۵ کال کې د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت ډېر ولوید. د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته د ۲۰۱۴ کال تر پایه د ډالر په مقابل کې د یوې افغانۍ ارزښت تقریباً ۵۸.۱۸ و. د نوي کال په لومړیو دوو میاشتو کې یو ځل بیا د افغانۍ ارزښت د ډالر په مقابل کې ښه شو. په جنوري میاشت کې د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت ٥٧.٧٦ او په فبرورۍ کې ۵۷.۴ ته راټیټ شو.

د ۲۰۱۵ کال له لومړنیو دوو میاشتو وروسته، د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت ډېر کم شو، چې لاهم د ټیټېدو په حال کې دی او اوس (د ۲۰۱٦ کال د جنوري په لومړۍ اوونۍ کې) د ډالر په مقابل کې د یوې افغانۍ بیه ٦٨.٧٦ ته رارسېدلې ده (د لا ډېرې توضیح لپاره وګورئ، الف رسم).

[1] See online: http://www.adb.org/countries/afghanistan/economy

[2] See online: http://www.worldbank.org/en/news/feature/2015/10/30/afghanistan-development-update-afghanistan-sluggish-growth-against-the-backdrop-of-deteriorating-security

**الف رسم:** په ۲۰۱۵ کال کې د افغانۍ ارزښت (میاشتني اوسط ارقام)




*ماخذ: د افغانستان مرکزي بانک (http://dab.gov.af/en/DAB/currency) میاشتني ارقام د ټولو ورځو اوسط دي.*

## پانګونه

په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ اداري په اند، د ۲۰۱۴ کال د لومړیو ۹ میاشتو په پرتله د ۲۰۱۵ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې د پانګونې کچه ٢٦ سلنه کمه شوې ده. د ۲۰۱۴ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې تقریباً ٦١١ ملیون ډالره پانګونه شوې وه، خو د ۲۰۱۵ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې بیا ۴۴۸ ملیون ډالرو ته راکمه شوه.

په ساختماني برخه کې هم د پانګونې کچه د ۲۰۱۴ کال له ۲۰۰ ملیون ډالرو څخه د ۲۰۱۵ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې ۸۳ ملیون ډالرو ته راښکته شوه، چې د تېر کال په پرتله د ۵۸ سلنه ټیټوالي ښودنه کوي. همدا راز د صنعت، زراعت او خدماتو په برخه کې هم پانګونه په ترتیب سره ۲۵، ۱۲ او ٦٣.۹ سلنه کمه شوې ده.

## اداري فساد

ملي وحدت حکومت په لومړیو میاشتو کې تر ټولو ډېرې ژمنې د اداري فساد پرضد د مبارزې په برخه کې وکړې وې. په ۲۰۱۵ کال کې د اداري فساد پرضد ځینې هڅې وشوې؛ خو په دې اړه د حکومت تګلاره ډېره مسخره او ځینې مهال یې دریځونه له یو بل سره په ټکر کې وو،.

د اداري فساد پرضد د ملي وحدت حکومت تر ټولو بریالی ګام د ملي تدارکاتو کمیسون جوړول وو، چې د دغه کمیسون د جوړېدو له کبله حکومت په ډېرو قراردادونو کې پیسې سپما کړې.

د ۲۰۱۵ کال په اوړدو کې، حکومت د کابل‌بانک د قضیې یو شمېر پیسې له قرضدارانو څخه واخېستې. په کابل کې د سام کنفرانس پرمهال د افغانستان د مالیې وزیر وویل، چې تر اوسه یې ۲۲۸ ملیون ډالره پورونه ترلاسه کړي.

خو په ټولیز ډول ارزونه دا ده، چې حکومت د اداري فساد پرضد په مبارزه کې په یوه خوله نه و او همدا لامل و، چې له زندانه د کابل‌بانک د قضیې د یوه مهم تورن خلیل الله فروزي د خوشې کېدو او ورسره د یوه ښارګوټي د قرارداد لاسلیک کولو تېروتنه وشوه.

## نشه‌یي توکي

په ۲۰۱۵ کال کې د نشه‌یي توکو تر کښت لاندې ځمکه او پیداوار، په لومړي ځل د تېرو کلونو په پرتله کم شول. د ملګرو ملتونو د جرایمو او د مخدره توکو د اداري د کلني راپور له مخې، په ۲۰۱۵ کال کې په ۱۸۳۰۰۰ هکتاره ځمکه کې د نشه‌یي توکو کښت شوی و، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۹سلنه کمښت ښیي. همدا راز په ۲۰۱۵ کال کې د نشه‌یي توکو پیداوار هم ۳۳۰۰ ټنه اټکل شوي، چې دا هم بیا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۴۸ سلنه کموالی ښیي.

په ډېری توګه په افغانستان کې د مخدره توکو کښت په ناامنه سیمو کې وشو، تر ټولو زیات په هلمند، بیا په فراه، کندهار او بادغیس کې و. د افغانستان یوازې ۱۴ ولایتونه د نشه‌یي توکو له کښت څخه پاک وو او په پاتې نورو ۲۰ ولایتونو کې د مخدره توکو کښت شوی و.

د نشه‌یي توکو د کښت کموالی هم د ملي وحدت حکومت د تګلارو له کبله نه و، بلکې د ملګرو ملتونو د سروې له مخې، د مخدره توکو د پیداوار د کمښت ستر لامل د فصل خرابوالی و.

## کډوال

د ۲۰۱۴ کال په پای کې په پېښور کې پر یوه پوځي مکتب بریدونه وشول، چې له کبله یې نه یوازې دا چې په پاکستان کې دننه د "ترهګرۍ" ضد جګړې تګلاره بدله شوه، بلکې په پاکستان کې یې د افغان کډوالو پر وضعیت هم ژوره اغېزه وکړه. له همدې کبله د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ څخه تر اوسه پورې تقریباً ۹۵۰۴۲ ناراجستره افغان کډوال، د تورخم له لارې افغانستان راستانه شول[3]. د وخت له تیرېدو سره له پاکستان څخه د افغان کډوالو راتګ هم ورو ورو په کمېدو شو. همدا راز د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له پیل څخه تر اوسه پورې تقریباً له ۵۰ زرو څخه زیات راجستر شوي افغان کډوال هم بېرته هېواد ته راوګرځېدل.

په ۲۰۱۵ کال کې د د ناامنیو او بې‌کارۍ له کبله لسګونه زره افغان ځوانان پر خطرناکو لارو د اروپا په لور ولاړل؛ که څه هم تر اوسه داسې کره شمېرې نشته، چې اروپا ته په ۲۰۱۵ کال کې څومره افغان کډوال تللي؛ خو بیا هم د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې، له هغو کابو یو مېلیون کډوالو څخه، چې د مدیترانې د سمندر له لارې اروپا ته تللي، ۱۹ سلنه یې افغانان وو، چې اټکلي شمېر یې نژدې ۲۰۰۰۰۰ تنو ته رسېږي.

## بهرنی سیاست

په ۲۰۱۵ کال کې د کابل د بهرني سیاست اساسي ټکي او اصول اقتصادي پیوستون، د سولې ټینګښت او د هېواد پرمختګ وو. د اقتصادي پیوستون په برخه کې په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې د کاسا-۱۰۰۰ او ټاپي پروژو عملي کار پیل شو. د ترانزیټ په برخه کې حکومت د لاجوردو لارې په جوړولو او د چابهار بندر د فعالولو هلې ځلې وکړې او په همدې موخه د حکومت مشرانو آذربایجان، ترکمنستان، ایران او ترکیې ته سفرونه وکړل. په دغو برخو کې حکومت تر ډېره بریالی راووت.

د یمن په قضیه کې د سعودي پر ملاتړ اعلامیه او له پاکستان سره د اړیکو له لوړو او ژورو پرته، په ۲۰۱۵ کال کې کابل تقریباً له ټولو ګاونډیانو سره ښې اړیکې درلودې. همدا راز له سیمه‌ییزو هېوادونو (ترکیې، هند او سعودي عربستان) سره یې هم اړیکې ښې شوې.

[3] See online: https://afghanistan.iom.int/sites/default/files/Reports/return_of_undocumented_afghans_from_pakistan_-_update_as_of_30_nov_2015.pdf

د سولې په برخه کې که څه هم افغان حکومت کومه څرګنده لاسته راوړنه نه درلوده؛ خو بیا هم د کابل د بهرني سیاست د بدلون له کبله، اسلام‌آباد ته نژدې په مرې کې د افغان حکومت او طالبانو د مخامخ خبرو یوه ناسته وشوه او وروسته چې کله د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ اړیکې خرابې شوې، نو بیا چین او امریکا هڅه کوله، چې دواړه ګاونډیان خپلې اړیکې بېرته عادي کړي. د دغو هڅو له کبله اوس یو ځل بیا داسې تمې راټوکېدلې دي، چې دا تم شوې پروسه به بېرته پیل شي.

# افغانستان در سال ۲۰۱۵؛ صلح، امنیت و اختلافات داخلی



سال ۲۰۱۵ میلادی از لحاظ امنیتی برای افغانستان سال دشوار بود و میدان جنگ میان حکومت و مخالفین مسلح نظر به سال‌های گذشته گرم‌تر بود. در این سال، جنگ به مناطقی که پیش از این نسبتاً امن‌تر محسوب می‌شد، گسترش یافت و شیوهٔ جنگ طالبان نیز تغییر کرد. طالبان برای اولین بار به جای جنگ‌های چریکی، روش گرفتن مناطق و حفظ سیطرهٔ خود بر آن را در پیش گرفتند. به همین دلیل، شماری از ولسوالی‌ها و یکی از شهرهای مهم و استراتیژیک کشور نیز به دست طالبان سقوط کرد.

پروسهٔ صلح با مخالفین مسلح نیز با عبور از مراحل مختلف، با امیدواری‌ها و ناامیدی‌هایی همراه بود. اولین نشست مذاکرات مستقیم میان طالبان و حکومت افغانستان در "مری" در نزدیک اسلام‌آباد برگزار شد، ولی این روند نیز پس از افشا شدن خبر مرگ ملا محمد عمر تا آیندهٔ نامعلوم به تعویق افتاد.

در کنار وضعیت خراب امنیتی و به بن‌بست رسیدن گفتگوهای صلح در این سال، حکومت وحدت ملی نیز در سیاست داخلی با مشکلات و اختلافاتی مواجه بود و تا هنوز هم سران حکومت وحدت ملی، در برخی از قضایای اساسی کشور مخالفت‌هایی باهم دارند.

## وضعیت امنیتی کشور

بعد از تشکیل حکومت وحدت ملی وضعیت امنیتی کشور از سه مرحله عبور کرده است:

**مرحلهٔ اول:** پس از امضای قرارداد امنیتی با امریکا، وضعیت امنیتی کشور روبه خرابی نهاد و تنها در کابل چندین انفجار خونین صورت گرفت؛

**مرحلهٔ دوم:** سفر رییس جمهور غنی به پاکستان و تلاش‌های تامین صلح با همکاری پاکستان؛

**مرحلهٔ سوم:** پس از افشا شدن خبر مرگ ملا محمد عمر.

چون بحث ما در مورد سال ۲۰۱۵ است، از مرحلهٔ اول می‌گذریم و از مرحلهٔ دوم آغاز می‌کنیم.

مرحلهٔ دوم:

### سفر رییس جمهور غنی به پاکستان

رییس جمهور غنی به تاریخ ۱۴ ماه نوامبر سال ۲۰۱۴، در نخستین سفر خود به پاکستان رفت و با مقامات پاکستانی در مورد آغاز مذاکرات صلح گفتگو کرد. اشرف غنی به هدف تشویق پاکستان برای همکاری صادقانه در مذاکرات صلح، به این کشور امتیازاتی زیادی داد. سفر اشرف غنی به پاکستان باعث تشدید علمیات طالبان در اوایل سال ۲۰۱۵ گردید، چون طالبان بارها گفته بودند که آنها تحت نفوذ پاکستان نیستند و برای ثابت ساختن این ادعای خود، زیر نام "عزم" عملیات خود را با شدت بیشتری آغاز کردند.

### ظهور گروه داعش

گروه داعش به رهبری ابوبکر البغدادی به تاریخ ۲۹ ماه جون سال ۲۰۱۴ میلادی در سوریه و عراق اعلام "خلافت" نمود و پس از آن در مناطق قبایلی افغانستان و پاکستان نیز، شماری از این اعلام استقبال کردند و تعدادی هم با این گروه اعلام "بیعت" کردند. از این‌رو کشورهای منطقه به خصوص کشورهای آسیای میانه و فدراسیون روسیه از نفوذ داعش در افغانستان، اظهار نگرانی کردند.

هرچند در اوایل، بسیاری از خبرها در مورد حضور گروه داعش در افغانستان بنا بر تبلیغات رسانه‌یی بود و عملا فعالیت‌های آنان دیده نمی‌شد، ولی با گذشت زمان و به خصوص در اوایل سال ۲۰۱۵ برای نخستین بار حکومت

افغانستان نیز موجودیت جنگجویان داعش در افغانستان را تایید کرد. در ماه جنوری، گروه داعش حافظ سعید خان از منطقهٔ قبایلی اورکزی ایجنسی را به حیث امیر و عبدالرؤوف خادم عضو کمیسیون نظامی طالبان را به حیث معاون ولایت "خراسان" تعیین کرد.

پس از اعلام رسمی والی و معاون ولایت "خراسان" افراد بیشتری به این گروه پیوستند؛ اما هنوز هم دقیقاً مشخص نیست که چه تعداد از افغان‌ها و پاکستانی‌ها به این گروه پیوسته اند.

در همین مرحله اختلافات میان طالبان و داعش شدت بیشتر گرفت و طالبان نامه‌ای را به ابوبکر البغدادی رهبر گروه داعش فرستادند، اما گروه داعش در جواب این نامه واکنش تند نشان دادند و به تدریج میان این دو گروه نیز درگیری‌هایی صورت گرفت.

## گسترش جنگ به شمال کشور

حکومت وحدت ملی در آغاز فصل زمستان تشکیل شد و توقع می‌رفت که در این فصل شدت جنگ نیز کاهش خواهد یافت، اما چنین نشد بلکه شدت جنگ در فصل سرما روز به روز بیشتر گردیده و دامنهٔ آن وسیع شد.

گروه طالبان برای اولین بار موجودیت خود را در شمال ثابت ساختند و از بدخشان تا فاریاب شماری از ولسوالی‌ها را سقوط دادند، چنانچه این حالت زمینه را برای سقوط کندز نیز مساعد ساخت.

مرحلهٔ سوم:

## خبر مرگ ملا محمد عمر

مرحلهٔ سوم ناامنی‌ها در افغانستان با اعلام خبر مرگ ملا محمد عمر آغاز گردید. در این مرحله نه تنها دامنهٔ جنگ گسترش یافت بلکه برای نخستین بار تاکتیک جنگی طالبان نیز تغییر کرد. تنها در شهر کابل چندین حملهٔ مرگبار رخ داد که یکی از این حملات، حملهٔ خونین شاه شهید نیز بود. هرچند گروه طالبان مسؤولیت این حمله را به دوش نگرفتند.

وضعیت ناگوار امنیتی در کابل روی سیاست خارجی حکومت وحدت ملی نیز سایه افگند و برای اولین بار موقف اشرف غنی در قبال پاکستان تغییر کرد. اشرف غنی در یک کنفرانس مطبوعاتی اظهار داشت که پاکستان در یک جنگ اعلان ناشده با افغانستان درگیر شده است و نخست با پاکستان صلح شود.

در همین مرحله، فعالیت‌های گروه داعش نیز در افغانستان شدت گرفت. این گروه دست به گروگان‌گیری‌ها، سربریدن‌ها و کشتارها زد.

## سقوط کندز

به تاریخ ۲۸ سپتامبر سال ۲۰۱۵، شهر کندز یکی از مهم‌ترین شهرهای افغانستان، به دست طالبان سقوط کرد. این خبر در رسانه‌های ملی و بین‌المللی به گونهٔ وسیع انعکاس یافت و سقوط این شهر، به عنوان یک تهدید جدی مطرح شد.

سقوط کندز آغاز تاکتیک تازهٔ طالبان برای تصرف کردن مناطق بیشتر پنداشته شد و رهبری طالبان نیز به جنگجویان خود دستور داد تا مناطق گرفته شده را حفظ کنند.

حکومت افغانستان برای تصرف دوبارهٔ شهر کندز، عملیات گسترده را به راه انداخت، ولی باز هم بازپس‌گیری این شهر ۱۵ روز را در برگرفت. این اولین باری بود که پس از سرنگونی رژیم طالبان در سال ۲۰۰۱، این گروه یکی از شهرهای افغانستان را تصرف می‌کند و جنگ رو در رو میان طالبان و نیروهای امنیتی در یکی از شهرهای افغانستان صورت می‌گیرد.

## راه‌کار صلح

اشرف غنی و داکتر عبدالله در جریان مبارزات انتخاباتی شان برای آوردن صلح وعده‌های بزرگی به ملت داده بودند. بعد از تشکیل حکومت وحدت ملی، اشرف غنی برای رسیدن به صلح، نخست به طرف چین روی آورد و سپس برای همین منظور، تلاش بهتر شدن روابط میان کابل و اسلام‌آباد نمود و به آن کشور امتیازاتی داد که پاکستان توقع آنرا هم نداشت.

پس از بهبود روابط کابل-اسلام‌آباد، پاکستان نیز وعده‌هایی به مقامات افغان داد و ماه مارچ را برای برگزاری اولین نشست مذاکرات صلح تعیین نمود. ولی پاکستان قادر نشد در این ماه طالبان را به میز مذاکره حاضر نماید. پس از ماه مارچ که پاکستان نتوانست طالبان را به میز مذاکره حاضر نماید، شک‌ها و تردیدها در مورد صداقت پاکستان در این روند، روز به روز بیشتر می‌شد.

## مذاکرات مری و سرنوشت پروسۀ صلح

اولین نشست مذاکرات صلح به میانجیگری پاکستان، به تاریخ ۱۸ ماه جولای ۲۰۱۵، در منطقه «مری» در نزدیک اسلام‌آباد برگزار شد و طالبان نیز در نتیجۀ فشارهای مسلسل پاکستان وادار به فرستادن نمایندۀ خویش به مذاکرات مری شدند. به این ترتیب، نماینده‌گان حکومت افغانستان برای اولین بار در گفتگوهای رو در رو و رسمی با طالبان روبه‌رو شدند. نماینده‌گان چین و امریکا نیز به صفت ناظر در این جلسه حضور داشتند.

اینکه نماینده‌گان رسمی طالبان در گفتگوهای مستقیم صلح با حکومت افغانستان شرکت نمودند، این امر بالای طالبان نیز تاثیرات عمیق برجا گذاشت. به همین دلیل میان طیب آغا رئیس دفتر سیاسی طالبان در قطر و ملا اختر محمد منصور اختلافاتی رونما گردید و سرانجام به دلیل مخفی نگه‌داشتن مرگ ملا محمد عمر و انتخاب ملا اختر محمد منصور به عنوان رهبر طالبان در داخل پاکستان، طیب آغا از ریاست دفتر قطر استعفا داد.

مذاکرات صلح میان حکومت افغانستان و طالبان نیز در پی اعلان وفات ملا محمد عمر متوقف گردید و پس از تغییر رهبری طالبان، موج تازۀ ناامنی‌ها در کشور آغاز شد که در این میان، حادثۀ خونین شاه شهید باعث خراب شدن دوبارۀ مناسبات کابل-اسلام‌آباد گردید.

از ماه نوامبر به این طرف دیپلوماسی منطقه‌یی و جهانی شامل چین، امریکا و ملل متحد، برای آغاز دوبارۀ صلح افغانستان متحرک شد و افغانستان و پاکستان را برای آغاز دوبارۀ پروسۀ صلح تشویق نمودند.[4] از جانب دیگر پس حادثۀ شاه شهید رهبران سیاسی و نظامی پاکستان نیز چندین بار از آماده‌گی اسلام آباد برای آغاز پروسه صلح با طالبان سخن گفتند، ولی حکومت افغانستان پاسخی به آنان نداد. سرانجام در سفر سران احزاب پشتون پاکستان به کابل، از دیپلوماسی "زبان" برای بهبود روابط میان دو کشور استفاده شد، تا این روابط دوباره بهتر و پروسۀ صلح آغاز گردد. رهبران احزاب پشتون پیام نوازشریف نخست وزیر پاکستان را که حاوی درخواست دیدار با اشرف غنی در حاشیۀ کنفرانس پاریس بود، با خود آوردند.[5]

اشرف غنی در کنفرانس پاریس با نوازشریف دیدار کرد و نواز شریف او را برای شرکت در کنفرانس قلب آسیا به اسلام‌آباد دعوت نمود و پشنهاد راه‌اندازی گفتگوهای چهار جانبه برای صلح افغانستان را مطرح کرد. پس از آن، جنرال

---

[4] برای معلومات بیشتر به شمارۀ ۱۴۲ تحلیل هفته مراجعه نمایید: http://csrskabul.com/pa/wp-content/uploads/2015/11/%D8%AA%D8%AD%D9%84%D9%8A%D9%84-%D9%87%D9%81%D8%AA%D9%87-142.pdf

[5] برای معلومات بیشتر به شمارۀ ۱۴۵ تحلیل هفته مراجعه نمایید: http://csrskabul.com/pa/wp-content/uploads/2015/12/%D8%AA%D8%AD%D9%84%D9%8A%D9%84-%D9%87%D9%81%D8%AA%D9%87-145.pdf

راحیل شریف لوی دستیز پاکستان نیز در یک کنفرانس ویدیویی، وعدهٔ همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان به اشرف غنی داد و او را به اشتراک در کنفرانس قلب آسیا دعوت کرد.

در ملاقات‌های اشرف غنی با نخست وزیر و لوی درستیز پاکستان در حاشیهٔ کنفرانس قلب آسیا، روی طرح مذاکرات چهارجانبه برای صلح افغانستان توافق صورت گرفت. بر اساس این طرح، نخستین نشست چهارجانبه شامل کشورهای افغانستان، پاکستان، ایالات متحده و چین، از ۱۰ الی ۱۵ ماه جنوری در اسلام‌آباد برگزار خواهد شد.

اینکه آیا این نشست چهارجانبه تا چه حد مثمر و مفید خواهد بود، سوالی است که تا چند ماه آینده پاسخ آن روشن خواهد شد. ولی شکی نیست که در این نشست نیز نماینده‌گان جناح اصلی طالبان شرکت نخواهند کرد و نتیجهٔ آن، همانند گفتگوهای ژنو در زمان خروج نیروهای اتحاد شوروی از افغانستان خواهد بود.

## اختلافات داخلی حکومت

سران حکومت وحدت ملی در این سال، بر سر قضایای مختلف اختلافات عمیق داشتند که در نتیجهٔ آن هنوز هم کابینهٔ حکومت تکمیل نشده و بسیاری از والیان به عنوان سرپرست ایفای وظیفه می‌نمایند. اختلاف بر سر کمیسیون‌های انتخاباتی همچنان پابرجاست و تذکره‌های الکترونیکی همچنان اجازهٔ صدور نیافته است. در کنار آن، اختلافات داخلی حکومت وحدت ملی، روی سیاست خارجی افغانستان نیز تاثیرات عمیق داشته است.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.